DAILY
اراده
داځغان نشراتي مرکزملي خپلواکه ورځپانه

سال پنجم شماره ۱۲۶
شماره مسلسل ۹۹۳
دوشنبه ۲۵ ثور ۱۳۸۵ هـ. ش
۱۶ ربیع الاول ۱۴۲۷ هـ ق
15 May, 2006

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

بحث دیروزی کمیسیون های ولسی جرگه



در نشست شماری از اعضای کمیسیون های ولسی جرگه که پیش از ظهر دیروز برگزار گردید نمایندگان در باره

وضعیت امنیتی، مبارزه با مواد مخدر، مبارزه با رشوه ستانی، فساد اداری و جلو گیری از ارتکاب جرایم گفتگو نمودند.

اعضای کمیسون امور دفاعی و تمامیت ارضی و کمیسیون امور داخلی ولسی جرگه در باره وضعیت کنونی کشور گفتگو نمودند. جمیل کرزی یکی از اعضای کمیسیون امور داخلی ضمن بحث در باره مسایل امنیتی پیشنهاد کرد تا وزیران داخله دفاع، سرحدات و رئیس امنیت ملی به ولسی جرگه احضار شوند تا در باره وضع نارام کشور تبادل نظر نمایند. او میگوید که اگر مردم به ارگان های امنیتی همکار باشند هیچ هراس افگنی نخواهد توانست وضع امنیتی را مختل سازد.

ص۴

د بهرنیو ځواکونو په وړاندی جهاد مشروعیت نلری

دا خبره په کندهار کې د عالمانو شورا ریس غلام محمد غریب تیره ورځ د یلوی خبری غونډی پر مهال وکړه د هغه په وینا چی د طالبانو له خوا تولی هغی فتوای ګانی چی ویلی یی وو د بهرنیو او کورنیو ځواکونو پر وړاندی دی جهاد وشی بی اساسه دی او هر هغه څوګ چی د دولت پر وړاندی پاڅون کوی یاغی ګنل کیږی د کندهار د عالمانو شورا ریس هغه بهرنی ځواکونه چی په هیواد کې دی د حامد کرزی د منتخب حکومت نه په ملاتړ یاد کړل له تیرو څلورو کلو راهیسی په لسګونو هغه عالمان چی د حامد کرزی د حکومت ملاتړ یې کاوه وژل شوی دی غلام محمد غریب څه موده وړاندی د خپل سر د امنیت ساتنی نه هم اندیښنه څرګنده کړی وه.

ایجاد گروه های شبه نظامی در کنر

دولت گروه های شبه نظامی مسلح قومی را در ولایت کنر فعال ساخته است.

مل پاسوال عبد الغفار قوماندان امنیه ولایت کنر میگوید روند ایجاد گروه های شبه نظامی قومی از ولایت پکتیا در جنوب شرق کشور آغاز شده است، وی هدف از فعال شدن این گروه ها را تحکیم ثبات و امنیت در منطقه میخواند و میگوید که علت این کار کمبود افراد پولیس در آن ولایت است.

برخی از کار شناسان فعالیت مجدد گروه های مسلح غیر مسئول را تهدید، برای امنیت کشور ارزیابی میکنند و آنرا مانع در برابر برنامه خلع سلاح و غیر نظامی کردن افراد مسلح میدانند.

ص۴

جلوگیری از انفجارات در خوست

پولیس ولایت خوست در جریان هفته روان از انفجار بیش از ۶ ماین جا سازی شده در آن ولایت جلوگیری کرده است. سمنوال محمد زمان آمر امنیت قوماندانی امنیه ولایت خوست گفت که این ماین ها در نقاط مختلف ولایت خوست از سوی مخالفان دولت جا سازی شده بودند که پیش از انفجار کشف و خنثی شدند.

آقای زمان گفت که علت افزایش این رویداد ها داشتن مرز طولانی ولایت خوست با کشور همسایه می باشد و کسانیکه مخالف صلح و ثبات پایدار در افغانستان هستند با استفاده از راه های مرزی حملات تخریب کارانه شانرا انجام میدهند. وی افزود که تا کنون دو تن به اتهام این رویداد ها بازداشت شده اند.

یو مړ او دوه تپي

د هلمند ولایت مرکز لشکرګاه کې تیره شپه د یو وسله وال برید په ترڅ کې یو دولتي مامور وژل شوی او یو بنوونکي سخت ټپي شوی دی.

په سیمه کې عیني شاهدان وایي دوه تنو پر موټر سایکل سپورو وسله والو چې مخونه یې پټ کړي وو پدغه دولتي مامورینو باندې برید وکړ او وروسته له سیمې څخه وتښتیدل.

د هلمند چارواکو ددغه خبر د تائید پر مهال بې بي سي ته وویل د بنوونکي روغتیایي حالت د اندیښنې وړ دی چې دا مهال تر بیرنی درملنې لاندې دی. چارواکي د تیر په څیر په دولتي مامورینو دغه برید د وطن او سولې د دښمنانو کار بولي

سرمقاله

بیایید با تخلفات از مردم فاصله مگیرید، تا مردم از شما فاصله نگیرند!

یکی از موضوعات مطروحه درجلسهء وزیران ، که از سوی رئیس جمهوری خاطرنشان گردید، ثبت دارایی های وزیران کابینهء موجود است .

با آنکه این تقاضا درطی سالهای پیش نیز یکی دومرتبه درجلسهء وزیران ازسوی رئیس جمهور طرح شده بود ، اما تاجاییکه دیده شد، دو سه وزیر جسته وگریخته برخی از دارایی های شخصی خود را ونه خانواده وفرزندان خود را اشاعه کردند، مگر بیشتر وزیران وآنانیکه به اصطلاح گل سرسبد کابینه ومقرب تربه رئیس جمهوری بودند، برین خواست رئیس جمهور کشور پاگذاشتند ودرواقع ازیک فرمان شفاهی تخطی ورزیدند.

معلوم نیست که این بار آقایان وزیر، که با هزار ویک مساله ومانع بار دیگر به کرسی وزارت تکیه زده اند، چقدر به هدایت رئیس شان پابند خواهند بود.

ازآنجا که قانون شکنی وتخطی پذیری وسهل انگاری رسم عام کشور ما بخصوص درطی چهار سال گذشته شده است ، درهفته گذشته ما شاهد تخطی های آشکار وجدی دررکن دیگر دولت یعنی شورای ملی بودیم که به عوض بحث روی یک ماده صریح و آشکار (۱۰۶) قانون اساسی به مناقشه کشیدند وبعد آنرا مانند توپ به رئیس جمهور پاس دادند وبرصلاحیت قانونی ارگان قانونگذاری دولت خط بطلان کشیدند، سپس رئیس جمهور به قوه قضائیه آنرا به یک توجیه سلیقه یی ویک نظر مصلحت آمیز(!) دوباره به پارلمان ارسال کرد وپارلمان که خود دربرابر رئیس جمهور ورئیس قوهء اجرائیه به زانو افتاده بود، به یک بدعت تن داد وبا یک تخلف سبب بروز تخلفات بعدی شد .

درحالیکه روزنامهء اراده درهمان روز احالهء این موضوع به ریاست جمهوری آنرا درسرمقاله های شماره ۵و۶ ثور خود به مفهوم تخطی وسلب صلاحیت شورای ملی بدست خودش خوانده بود.

هفتهء گذشته نیز شاهد برهم زدن اجندای جلسه که بحث بر بودجه را سردست داشت بودیم وبدنبال آن گفتگوهای وکلا وسرانجام دشنامهای رکیک ازسوی وکلای مسلمان ومجاهد وتهدیدهای غیر اخلاقی ولت وکوب با بوتل وچپلک وچپلی ومانند آن وتحریک به چاقوکشی وتجاوز از سوی وکلاء گفته هایی بود که مایه خجالت وآبرو ریزی پارلمان گردید وتاسف تمامی ملت را برانگیخت .

اکنون ضمن اینکه مردم از ادامهء چنین تخلفات درارگان دولت ابراز اندیشه میکنند از روسای محترم ارگانهای ثلاثهء دولت می خواهیم که اجازه ندهند دربدنهء ادارهء شان چنین تخلفات تاسف آور تکرار شود.

زیرا ادامهء تخلفات موجب بی اعتمادی ملت از ارکان دولت میشود ودرنتیجهء اوضاع موجود پرتشنج وغیر قابل حل وپر از دشواری را به مراحل انفجار و انهدام سوق میدهد.

وقتی تمامی ملت تماشا میکنند که نماینده گان منتخب شان و وزیران وکارگزاران امور دولتی وکشوری شان برپیشانی مقدس قانون، اخلاق ، آداب، فرهنگ وعنعنات اسلامی وافغانی پامیگذارند، « مردم ورعایای بیچاره شان » به کدام مرجع دیگری روی آورند؟ ص۴

تر دوه کلن څنډ وروسته افغان ملي سرود وغږید

ولسمشر حامد کرزي د هیواد نوی ملي سرود خپلو خلکود ملي، فرهنګي او تاریخي هویت نښه بللې ده د سرود رسمي پرانیسته په کابل کې د لوړ پوړو حکومتي چارواکو په ګډون د څانګړو مراسمو په ترڅ کې وشوه .نوی ملي سرود په پښتو ژبه دی او د هیواد د اساسي قانون د حکم له مخې پکې په هیواد کې د میشتو قومونو نومونه او د الله اکبر کلمه څای کړل شوې ده . د نوی ملي سرود رسمي پرانیسته چې جوړولو یې شاوخوا دوه نیم کاله وخت واخیست، په څنډ سره دسرود د چمتو کیدو له اړخه په حکومت او په ځانګړې توګه د اطلاعاتو او کلتور په وزارت پرله پسې نیوکو ته د پاې ټکې کیښود

له ولسي جرګې نه د باور د رایې د اخیستو په مهال د اطلاعاتو او کلتور په سرپرست وزیر سید مخدوم رهین یوه لویه نیوکه داهم وه چې دنوي اساسي قانون له جوړیدو راهیسې یې د اوږدې مودې په تیریدو سره د نوي ملي سرود چمتو کولو ته پام ندی اړولی خو رهین د سرود د رسمي پرانستی په مهال وویل چې ګواکې ستونزه د شعر د غوره کولو پر سروه او دا چې اړنده کمیسیون یوازې دري میاشتې وړاندې دوی ته د کمپوز لپاره شعر وروسپارل.

دغه سرود په داسې حال کې رسمي بڼه خپلوي چې د حکومت شلو وزیرانو له ولسي جرګې نه د باور د رایې له ګټلو وروسته په رسمي توګه په کار پیل کړی ، خو رهین لاهم د هغو پنځوو وزیرانو په کتار کې دی چې د باور رایه یې نده ګټلې.

۴مخ

په جلال آباد کې د لرګیو سرای اور واخیست

د جلال آباد ښار په څلورمه ناحیه کې د لرګیو په پلورنځیو کې د اور د لړیدو له امله په لس ګونه د کانونه سوزیدلي دي. ویل کیږي چې په دغه اور کې تر لس میلیونو افغانیو پورې زیان اوښتی دی.

خو د ننګرهار ولایت د امنیتي قوماندانۍ د مطبوعاتو مسول عبد الغفور وایي چې د اور له امله له ۶۰ څخه تر ۷۰ پورې دکانونه سوزیدلي دي. اور تر دوه ساعته دوام وروسته د اطفایي او بلدوزرونو په مرسته مړ شوی دی.

د انجونو په ښونځي په توغې وویشتل شو

وړمه شپه د وردګو ولایت د تګي د دری د دواب کلي د انجونو یو ښوونځی د ناپیژندل شوي کسانو له خوا د راکت په ډزو ویشتل شوی دی، د سیمې د اوسیدونکو په خبره ددغې برید له کبله د ښوونځی د کړکیو شیشې ماتې شوې او اوس مهال د انجونوزده کړه هم پکې په ټپه ولاړه ده.

د وردګو ولایت د تګي دری د دواب کلي د انجونو ۳۰۰ تر شپږ ټولګي پورې زده کړی کولې.

۴مخ

روابط بین انسانها در یک جامعه مدنی در ماهیت دموکراسی

سریر احمد سائیس

دموکراسی – بعد انسانی قدرت:

از آنجا که قدرت در حالت طبیعی، پدیده ای خودگردان می باشد، کارکرد طبیعی قدرت روابط خاصی را در بین انسانها بوجود می آورد و رابطه آنها را بر اساس قوانین مبتنی بر قدرت تنظیم می کند. این روابط هم چیزی جز همین روابطی که در تاریخ شاهد آن هستیم، نمی باشد. نتیجه کارکرد اتودینامیک و خودکار پدیده قدرت در روابط انسانها در واقع چیزی جز پدیدار شدن استبداد نیست.

پس می توان گفت در صورتیکه قدرت توسط اراده آزاد انسانها مدیریت و کنترول نشود، حاصلی جز تبدیل شدن نهاد جمعی دولت به حوزه فردی قدرت، یعنی استبداد فردی، در بر ندارد. این بدین معنی است که در هر حال و در همه جوامع ، قدرت مدیریت نشده ، به شکل طبیعی به استبداد و روابط ناعادلانه راه می برد و این اصلی است که در تمامی طول تاریخ صادق بوده است. این مسئله چنان عام و عمومی می باشد که ما می توانیم روابط بین انسانها را در جوامع مختلف و در یک اشل تاریخی به دو دوره استبداد و دموکراسی تقسیم کنیم...

دوره استبداد:

اگر از ابتدای شکل گیری نهاد قدرت دولتی در جوامع بشری تا به امروز یک چیز در روابط بین نهاد دولت و دیگر نهادها و هرمهای قدرت مشترک باشد این است که این روابط به زور واستبداد راه برده است.

اما چرا؟

چرا در تمامی جوامع بشری این پدیده رایج است؟

چرا رابطه انسانها در تمامی جوامع بشری از آغاز تا امروز، مبتنی بر فرهنگ سلطه و اتوریته می باشد و در هر حال انسانها یا سلطه گرند و یا تحت سلطه؟

چه عاملی این روابط یکسان را در تمامی جوامع بوجود می آورد؟

چرا نه تنها روابط مبتنی بر سلطه، بلکه شیوه های اعمال سلطه هم در جوهره و ماهیت به شکل شگفت انگیزی در تمامی جوامع و در تمامی طول تاریخ یکسان می باشد؟

برای ما بعنوان انسانهایی که در این سیستم زندگی کرده ایم شاید چنین سوالهایی کمتر موضوعیت داشته باشد. ولی اگر خودمان را بعنوان یک موجود خیالی فضایی که تجربه زیستن در این سیستم را ندارد تجسم کنیم، و در چنین جایگاهی، تاریخ زندگی اجتماعی تاکنون نوع بشر را در کلیت خودش سرجمع بزنیم و بخواهیم بر این اساس رابطه بین انسانها را بررسی کرده و قوانین آن را کشف کنیم، شاید اولین سوالی که در ذهن چنین موجودی بوجود می آید اتفاقا همین سوالات باشد. این چیست که تمامی اختلافات نژادی، فرهنگی و مذهبی و جغرافیایی را در می نوردد و این چنین روابط یکسانی را به انسانها تحمیل می کند؟

آیا این روابط یکسان نبایستی منشاء یکسانی فراتر از مرزهای نژادی، فرهنگی و جغرافیایی داشته باشد که ربطی به خوب و بد بودن انسانها و معیارهای اخلاقی آنها ندارد؟

جواب نگارنده این سطور برای این پرسشها این است که آن عاملی که منشاء این روابط یکسان می باشد، چیزی جز کارکرد طبیعی پدیده قدرت نمی تواند باشد. یعنی جاری شدن قدرت بدلیل اتودینامیک بودن و خودگردان بودن آن، جبرا منتهی به روابط مبتنی بر قوانین قدرت و سیستمی بر همان اساس می شود. این سیستم همچنانکه شاهد می باشیم چیزی جز سیستم سلطه گری و استبدادی نمی باشد.

پس می توان نتیجه گرفت که کارکرد طبیعی پدیده قدرت در هر حال و در هر جامعه ای جبرا راه به استبداد می برد و از آنجا که آگاهی انسان در طول زمان و با پیشرفت تاریخ شکل می گیرد گریزی از بوجود آمدن یک دوره تاریخی بنام دوره استبداد، در روند تکاملی انسان، متصور نیست، چرا که انسان تا پدیده ای موجود نباشد قادر به فهم و شناخت آن نمی باشد و مدت زمانی طولانی باید بگذرد تا جامعه ملی شکل بگیرد و قدرت جمعی خلق شود و ناهنجاریهای پدیده قدرت آشکار شود تا ذهنیت انسان نیز متوجه آن گردیده بتواند قوانین حاکم بر آن را کشف نموده و در صدد راه حل یابی برآید.

دوره دموکراسی:

دوره دموکراسی در تاریخ بشر، از زمانی آغاز می شود که از یک طرف نظام سلطه مبتنی به قوانین طبیعی قدرت به بن بست می رسد و از طرفی با شکل گیری جامعه ملی و پیدارشدن قدرت جمعی، شرایط ذهنی ای ایجاد می شود که حل مشکلات ناشی از اعمال قدرت طبیعی به عنوان یک صورت مسئله، در مرکز ثقل تفکر انسان قرار می گیرد.

اینجا یک سوال پیش می آید که آیا دموکراسی بعنوان پادزهر سیستم مبتنی بر سلطه استبدادی، در واقع راهی ناگزیر است که در پیش پای انسان گذاشته شده و لاجرم بر اساس تجربه و خطاهای بسیار، و باگزینش و انتخاب آزاد اراده آزاد انسانی، در جامعه انسانی شکل می گیرد یا نه با تعامل و تساهل نخبگان و ریش سفیدان قوم با قدرت حاکم.

آیا دموکراسی در روند طبیعی تکامل جامعه بشری شکل گرفته است؟ یا با نیت خیر تکنوکراتها و معلمان اخلاق؟

طبیعی است که برای این پرسشها، پاسخهای متفاوتی وجود دارد. تفاوت پاسخها نیز بدون شک ناشی از تفاوت نگاه یا دید پاسخ گوینده می باشد که خود بخود تعریف او از نقش نیروها در رسیدن به دموکراسی را تبیین می کند.

مثلا ما اگر دموکراسی را زاییده روند طبیعی حرکت جامعه و به عنوان یک دوره تاریخی بپنداریم، لاجرم نقش نیروهای سیاسی را بر اساس میزان تاثیری که در معادلات قدرت در یک جامعه ایفا می کنند، مورد توجه قرار می دهیم. چنین دیدی لاجرم ما را به آنجا می رساند که از دیدگاه منزه طلبانه و اخلاقی فاصله گرفته و نیروها را نه بر اساس پندارهای ارزشی بلکه در نقشی که بشکل واقعی ایفا می کنند و میزان دخالتی که آنها در استخراج و بسیج قدرت جمعی جامعه بازی می کنند ، مورد بررسی قرار خواهیم داد. در یکی از این دیدگاهها، نقش تکاملی نیروها بر اساس میزان دخالت آنها برای درهم کوبیدن قدرت استبداد و ایجاد تعادل هر چه بیشتر بین قدرت دولتی و قدرت جمعی مطرح است و در دیگری سازش با قدرت و اصالت دادن به قدرت حاکم. در یکی اصالت از آن مقاومت همه جانبه و حداکثر است و در دیگری نصیحت ، روضه خوانی و توجیه سازشکاری تحت عنوان گفتمانهای دموکراتیک. چنانکه مشاهده می شود تفاوت نگاه و دید ما نسبت به یک پدیده ، معیارها و دستگاه سنجش متفاوتی را در ذهن ما بوجود می آورد. که این معیارها نیز بنوبه خود نحوه رابطه ما با قدرت را تنظیم می کند. می توان گفت که نحوه تنظیم رابطه یک فرد با قدرت نهایتا مجموعه رفتارهای اجتماعی او را سامان می دهد.

ادامه دارد

باید دملي شورا دغوغو پریکړو درناوی وشي

قادر

هر وکیل دخپلو هغو دلایلو له مخې چې له خان سره یې دوزیر په ارتباط راتاول کړي دی دخپلې رایې اظهار یې کړی دی مل شورا خپلې خانګړې دندې په غاړه لري اونه داچې اوس درد شوو وزیرانو لپاره بیا غوندې شروع او رد شوی وزیرته قناعت ورکړی.

رد شوی اوسنی وزیران اوبه په راتلونکی کې باید دملی شورا دتائید یا رد مطلق نظر ته درناوی ولري رد شوی وزیران داساسي قانون له مخې بیاددی حق نه لري چې دولسمشر له خوا بیا دتائید لپاره وړاندې شي او ولسمشر هم دقانون خلاف حرکت نشی کولی اونه یې کوی له رد څخه وروسته ولسمشر دنده لري چې دوزارت لپاره دکار وړ اهل کسان دملی شورا دتائید یا رد لپاره وړاندې کړي.زمونږ په هیوادکی له بدبختو څخه یوه ستره بدبختی داده چې یو ځل څوک څوکی ته ورسید او واک یې ترلاسه کړ بیاله هر ډول تلاش څخه کار اخلی چې باید په همدغه څوکی باندې پاتې شی خود دخپلو کارونو دشفافیت او قانونیت خواته نه کوری او هر مسوول چاروکی زیربه سی چې دخپل ځان دساتلو اوپایښت لپاره په خپله اداره کې داسې کسان مقرر کړی چې دهغه په کمان ورځخه دفاع وکړی اوْ چې که یو مسوول چاروکی له یو ځای څخه بل ځای ته تبدیلږي نوپوره کروپ په له ځان سره وړی چې دا کار په حقیقت کې دهماغه چاروکی دبدنامیدو سبب کیږي اوکله چې دهغه دبدلیدو خبره رامنخته شی په غیر مستقیمه توګه ولسمشر ته مشوری را لیږی په غیر مستقیمه توګه مظاهروته سازمان ورکوی چې داکارونه په هیواد کی دلا نوری بدبختی عوامل رازیږوي. نوځکه خو لازمه ده چې ملی شورا باید دخپل صلاحیت به درلودلو سره غوخی پریکړی وکړی لکه چې ویې کړی او اجرائیه قوه هم باید په خپلو سر څو پریکړو سره دتغیراو تبدیل بهیرونه په وړاندی بوخی یوازی او یوازی دقانون له تطبیق څخه کار واخلی او له مسوول چارواکی سره دکروپی بدلولو اجازه له منځه له لاړه شي اونه باید بر مسوول ته داسی اجازه ورکړل شی چې په خپله سر څه کی دتقرر په وخت کې دخپلی سیمی خلک دنورو پرځای مقرر او له ځان سره بوځی.

نوخبره توله پدی راتولولای شوچی باید ولسی جرګه دخپل صلاحیت په چوکات کی چې کومه پریکړه دوزیرانو په ارتباط کوی هماغه رد شوی موضوع باید دکوم فشار پربنست ونه منی څکه چې خلک دخپل پارلمان تولی پریکړه څاري

په هیواد کی درادیویی خپرونو رول!

عبداللطیف «دنت الس»

رادیو او تلویزیون په هیواد کی دپراوړ بهیر سرته رسولی دی خودجنګ په اوږدو کی دزیاتو زورمندانو ته فشار لاندی راغلی او څه ناڅه یې په خپرونو کی کمی راغلی دی دبن دپریکړونه په را وروسته کالونو کی چې له یوی خوا دهیواد په مرکز او ولایتونو کی زیاتی رادیو ګانی منځ ته راغلی خود دموکراسی او ازونو هم ترخپلی شعاع لاندی راوستي یایی له خپل مسیرنه پښله اړولی. او باید دوه لاړو کی پاتی شوی ده.خو داچې دهیواد په غیورو خلکو باندی او په ځانګړی توګه د کلیو او باندو په خلکو باندی څه ناڅه دپوهنی در وازی بندی شوي نورادیوی خپرونو ته زیاته اړتیا هم پیدا شوي ده. چې باید دخلکو ضرورتونو ته ځوابونه ووایی او دوی سمې لاری ته وهڅوی.همدغه اوس زمونږ دهیواد په ولایتونو . ولسوالیو. کلیو او باندوکی زیات خلك له خپلو وجیبو او مسوولیتونو څخه غاړه غروی او ذهنیتونه یی تراوسه پوری لاتیاړه پاتی دی په دی معنی چې ښځی دپیسو په بدل کی خرڅیږی په حقه حققویی تیری کیږی دهلك او نجلی دتوافق پرته یو دبل په نوم کیږی او باید بدوکې مقابل لوری ته ورکول کیږی. همدغه راز ځوان نسل چې په یوه تیاره کورکی ژوند کوي او دپوهنی دوړانګونه یی کتبی نه دی ترلاسه کړی ددوی ذهنیتونه هم تیاره پاتی شوی دی چې دښو او بدو تمیزهم نه شی کولای.نوځکه دا دراډیو ګانو دنده ده چې یوازې دخلکو له پاره دسندرو او تفریحی چارو وسیله ونه ګرځی او ددی په څنګ کې روزنیز وچاروته هم زیاته پاملرنه را واړوی او په خپلو ورځنیو تبلیغاتو باندی دخلکو دانحراف مخه ونیسی.داڅکه چې ورځپانی او رادیوي خپرونې دهری شی او رادیویی خبرو او تولنې دغړو په ذهنی انکشاف کې په زړه پوری رول لوبولی شي که رادیو ته دیوه بنسونکی نوم ورکړ و نو خپرونکی دا ولیت حق پیدا کړی.محلی رادیوګانی باید هری سیمی دخلکو په مورنی ژبه خپرونی وکړی نه داچې په یوه ازبکی تولنه کی دری او بلوچی ژبو باندی خپلو خپرونو دوام ورکړی او اورید ونکوته دزړه توری . وسیلی برابری کړی.

اوس چې په هیواد کې دکابل رادیو سره سره نوری په سلګونو رادیوګانی جوړی شوې او دهیواد په مرکز او ولایاتو کې خپرونی کوی نوباید د هماغه ولایت اوسیمی اړتیاوی په نظر کې ونیسي او په ډیر و ساده الفاظو باندی خپل اصیل او سوچه فرهنګ ته وده ورکړی او له دی لاری نه خپلو وطنوالو ته دزیات خدمت جوګه شي.

دناکامو هیوادونوپه لست کې نهم هیواد

خلاصه جهانی خبرونه

د سولې صندوق هرکال د هیوادونو د بریالیتوب او نه بریالیتوب په هکله یو کلنی راپور خپروي، د ددې صندوق د ۲۰۰۶ کال راپور چې تیره اونۍ خپور شو، د پاکستان د حیرانونکې نابریالیتوب ښکارندویي کوي .پاکستان چې د همدې صندوق د ۲۰۰۵ کال د راپور له مخې د ناکامو هیوادونو په لست کې یې ۳۴مه شمیره درلوده اوس د ناکامو هیوادونو په لست کې نهم هیواد دی، په داسې حال کې چې د پاکستان ستر سیمه ییز سیال هندوستان په دې لست کې ۹۲ مه شمیره لري. په زړه پوري خبره داده افغانستان چې پخوا د ناکامو هیوادونو په لومړنیو شمیرو کې یې خای درلود اوس یې په لسمه شمیره کې خای نیولی دی یانې افغانستان سره لدې چې د دري لسیزو کورنۍ جګړو او ورانۍ نه وروسته دادی اوس د سوکالۍ او پرمختګ په لور ګامونه وړي ، په عمومي توګه ددې راپور له مخې د پاکستان او دنړۍ تر نورو اتو هیوادو بریالي هیواد ګڼل شوی خو پاکستان د خپلو ناسمو پالیسیو له امله په ډیرزغرده مخ په ښکته دلویدو په حال کې دی د ۳۴ شمیري نه نهمې شمیرې ته ښکته کېدل په زغرده لاندې لویدل دي نو پاکستان په کومه کرښه چې اوس روان دی که خپل تګ ته ادامه ورکړي یوورځ به سودان چې په دې لست کې لومړی شمیره لري هم شاته پریږدي او بیا به یو داسې وخت راشي چې دپاکستان نوم به د نړۍ له ټولو لستونوڅخه حذف شي.

ددې لست په جوړونه کې د یو هیواد د بریالیتوب او نه بریالیتوب معیار په هغه هیواد کې د بشري حقونو، د حکومت مشروعیت، د خلکو جبري بې خایه کېدنې د هیواد اقتصادي حالت اویو شمیر نور عوامل په نظر کې نیول شویدي. پاکستان د دې ټولو معیارونو پراساس یو ناکامه هیواد دی ، پاکستان یو داسې هیواد دی چې بنسټ یې په مذهبي کرکې او نفرت اینبودل شوی د پاکستان زېږدنه په هند کې د سل هاوو زرو هندوانو اومسلمانانو دوژنې بې کوره کېدو خپل ټاټوبي پریښیدو او د زرهاوو پېغلو عفت تر پښو د لاندې کېدو سره مل و د پاکستان د وجود له املې اوس هم دا وژنې، بې کوره کېدنې او رنګارنګ ربړونې او کړونې په سیمه کې دوام لري د پاکستان پنجابي استعمار هغه څه چې ګاونډیانو سره کوي هغه پرخپل خای، خو پخپله په پاکستان کې هم د پښتنو، بلوچواو سندهیانو او د هند د ویش د غمیزې پر مهال له هند څخه راغلي مهاجرو سره ډیر ناروا اوناسم سلوک لري او یواخې پنجاب د نورو ټولو ولسونو په حقونو خیټه اچولی ده، د پاکستان په پوځي او ملکي بیروکراسۍ کې ډېره برخه د پنجابیانو ده او همدا لامل دی چې د پاکستان په بیلا بیلو برخو کې د پنجابي استعمار په وړاندې د خلکو مبارزې روانې دي په بلوچستان کې خو دې مبارزو د وسله والې جګړې بڼه غوره کړې تر اوسه د پنجابي استعمارد پوځیانو دبریدونو له املې په سلهاوو بلوچ ځوانانو ښځې او ماشومانو وژل شویدي، په وزیرستان کې هم پنجابي استعمار د ترهګري پرضد د جګړې ترعنوان لاندې ۸۰۰۰۰ پوځیان په قبایلي سیمو کې ځای پرځای کړیدي دا پوځیان ددې پرځای چې د ترهګرو مخه ونیسي بې ګناه ملکي کسان وژني خو ترهګر اوس هم د پاکستان په پوځي کمپونو کې روزل کېږي. ملاتړ یې کېږي. پرپاکستان یو پوځي رژیم واکمني کوي او هغه څه چې د ولسواکۍ په نوم هلته سرته رسېږي یواځې بڼه لري د پاکستان د دوو سترو سیاسي ګوندونو مشران نواز شریف او بې نظیر بوټو د هیواد نه بهر اوسیدو ته اړ شوي او نشي کولاي د هیواد په سیاسي فعالیتونو کې ونډه واخلي د پاکستان اقتصادي حالت دهغې تر سیاسي حالت لا خراب دی ، سره لدې چې د پاکستان لومړي وزیر شوکت عزیز دعوي لري چې په پاکستان کې د یوتن اوسط عاید ۸۰۰ امریکایي ډالره دي، خو دا دعوه یوه دروغجنه او غولوونکی دعوا ده او د عامو خلکو د ژوند دکچې پر لوړوالي دلالت نه کوي بلکې پاکستان کې ورځ په ورځ د شتنمو او نیستمنو ترمنځ واټن مخ پر پراخیدو دي.

دپاکستان پولیس اوس هم په هغه نظام تکیه لري چې انګلیسي استعمار د خپلو مستعمرو د کنترولو لپاره تاکلی و د پاکستان د پولیسو په مامورینو کې تورن کسان وهل کېږي، ټکول کېږي او بدې څنې اخستل کېږي. بدې، مالي فساد او نورې درغلۍ د پاکستان په ټولو ادارو کې خپل لوړ پوړ ته رسیدلی او د یو عام سړي ژوند یې ډېر سخت ستونزمن کړی، په تیره بیا د پاکستان قضایي نظام داسې دي چې یو غریب سړي ته تقریباً ناشوني ده چې د قضا له لارې وکولاي شي خپل حق لاس ته راوړي مګر دا چې بدې ورکړې،خو ترټولو ستره ننګونه چې کېدای شي د یو مملکت په توګه د پاکستان شتون له ګواښ سره مخ کړي هغه پر پښتنو، بلوچو، سندهیانو او کشمیریانو د پنجابیانو برلاسي ده، دکشمیریانو، پښتنو، سندهیانو او بلوچانو ډېر شمیر سیاسي ګوندونه د خپلواکې غوښتونکي دي اوپه دې لاره کې مبارزه کوي ، پاکستان کې میشت ټول غیر پنجابي اتنیکي ګروپونه د پنجابي استعمار نه ناخوښ دي، د پاکستان پوځي چارواکو او بیا په تیره ایې ایس آیي هم د دې په پاکستان کې د محکومو ملتونو دآزادي غوښتونکو غورځنګونه او هم د هند او افغانستان په وړاندې د بنسټ پالنې او ترهګرۍ نه تل د یوي سیاسي وسلې په توګه کار اخیستی او اوس دپاکستان دهمدې کړنلارو له املې بنسټ پالنه په پاکستان اود پاکستان په پوځي ادارو کې دومره پیاوړې شوې چې اوس یې له منځه وړل تقریبا ناشوني دي اوس د ګاونډیانو په وړاندې د پاکستان ستراتیژي او بنسټ پالنې سره داسې پیوند موندلی چې نشي ګډای یو بل نه جلا شي، تیره وړځ مولانا فضل الرحمن په ډاګه وویل چې که د طالبانو حکومت په افغانستان کې وې نو هیڅکله به د ډیورنډ د کرښې مسئله نه وې مطرح شوې، د طالبانو په وخت کې د افغانستان حکومت د پاکستان ملګري وخو اوسنې حکومت د هند ملګري دي د مولانا فضل الرحمن ځرګندونې یو ځل بیا داخبره ثابتوي چې ترهګري، بنسټ پالنه اوآیي ایس آیي د پنجابي استعمار بې لابیل مخونه دي .نو او س چې پاکستان او ترهګري او بنسټ پالنه یو مدهوم لري او بیا پاکستان اتومي وسله هم لري نو دا یقیناً د سیمې او نړۍ سولې ته یو ستر ګواښ دی او شاید د نړۍ سولې ته همدا ګواښ لامل شي نړۍ تصمیم ونیسي چې پاکستان نور باید د نړۍ له نقشې څخه لرې شي .

په جلال اباد کې بریښنا دمسوولینو او پیسه دارو په خدمت کې ده

اشرف



دنړۍ پدې پرمختیایي وخت او شرایطو کې زمونږ هیوادوال چې داوبو پریمانه زیرمې لري او اوبه مو بهرنیو هیوادونو ته روانې دي له بریښنا څخه یې برخه دي.بریښنا دژوند یونه جلاکیدونکی جز ګرزیدلی دی خو کوزه په لاس په اوبو پسې ګرزو.دبریښنا وزیر اسمعیل خان له ترکمنستان سره قرار داد وکړاو هیواد والو ته یې ډاډ ورکړچې دهیواد څو لویو بنارونو ته به بریښنا ورکړل شي اوسل میګاواټه خوبه یې کابل بنار ته په پام کې نیسي مونږ دهیواد په هغو سیمو او یا که ووایو په بنارونوکې دبریښنا په ارتباط له دووستونزو سره مخامخ یو.یوه خوعامه ستونزه ده چې دولت څخه دپاسه څلورو کلونو په موده کې ونه شوای کولای چې دبریښنا دتولید په برخه کې دهغو اوبو له پاسه چې بهرته روانې دي دبریښنا دتولید لپاره بندونه جوړ کړی.لویې ویالې تري پورته کړی شاړې او ابادې ځمکې پرې خړوبه شي او له بلې خوا بریښنا تولید شي چې هم دژوند اسانتیا وی رامنځته شي او هم دخلکو لپاره کار پیداشي.اوبله ستونزه دبریښنا دویش په برخه کې غیر عادلانه حرکت دی دهیواد په هر بنارکې همدغه اوسنی کمه بریښنا دمسوولینو او پیسه دار و په خدمت کې ده دداسې اشخاصو لپاره بریښنا ۲۴ ساعته روانه ده او دغریبوپه کورونو یا بیخې بنده ده او یا خووارورکړل شوی دبیلګې په توګه دننګرهار په ولایت کې دځو کلونو راپدې خوا چې اداري فساد او دبډو اخیستل زیات شوی دی بریښنا دمسوولینو اوپیسه دارو په خدمت کې ده. همدا اوس چې په ننګرهار کې دحرارت درجه له ۴۱ درجه څخه زیاته ده دبریښنا په نوبتي حرکت کې غیر عادلانه کار روان دی.دچهار راهې مرستون یو اوسیدونکی محمد قایم وایي: بس ټول غم په غریبو راولویدلی دی چې نه واسطه لري او نه پیسې . برقیان رشوت اخلي پیسه دارو ته یې ۲۴ ساعته بریښنا ورکړی ده او مسوولین هم ۲۴ ساعته بریښنا لري. که داخبره څوک نه منې نو درجه له ۴۱ درجه څخه زیاته ده دبریښنا په نوبتي حرکت کې غیر عادلانه کار روان دی.دچهار راهې مرستون یو اوسیدونکی محمد قایم وایي: بس ټول غم په غریبو راولویدلی دی چې نه واسطه لري او نه پیسې . برقیان رشوت اخلي پیسه دارو ته یې ۲۴ ساعته بریښنا ورکړی ده او مسوولین هم ۲۴ ساعته بریښنا لري. که داخبره څوک نه منې نو را دشې او دشپې په تورتم کې دی دهغو کورونه وګوري چې له جنراتور پرته یې کور اوښانه وی او شاو خوا یې کورونه په تیاره کې دی.دقایم په څیر بنارپان په ننګرهار کې دبریښنا له چارواکوڅخه شکایت لري محمد اجمل چې دهمدغه بنار اوسیدونکی دی وایي : وروره خلك له دولت څخه په همدغه بې عدالتی خپه دی چې نه قانون شته او نه مقررات دبریښنا نوی وزیر اسمعیل خان چې مقرر شو نو دخلکو داسې هیله وه چې نوموړی په هرات کې ډیر کارونه کړي دی او حامد کرزی ځکه دغه وزارت ته راوړچې دبریښنا ستونزې حل کړي که څه هم نوموړی غیر مسلکي وزیر دی خو دولسمشر په وړاندې یو ډیرجدي وزیر بنکاریده خو بایدڅ ووایم چې دده په وزارت کې له پرون څخه راپاتې ګډوډي لازیاته شوه او دبرقیانو خپل سري په خپل حال پاتې ده.د ننګرهار اوسنی والي چې لاسلا کار وزیر هم دی دهمدغو بې عدالتیو دحل په برخه کې بې تفاوته دی هغه خپله ګوري چې ایا ۲۴ ساعته بریښنا دچا حق دی همدغه وجه ده چې خلك که دولت په خپلو ټولو خلکو بریښنا یو ډول وویشي نوبیا که شاه او ګدا یو ډول وی دچازړه ته به څه نه راځي یو به قانون وی او یو ډول به عدالت وي.که بریښنا کمه وی خو وی به

واکنش ایران به طرح تازه اروپا



محمود احمدی نژاد، رییس جمهوری ایران گفته است کشورش هر گونه راه حل ارائه شده از سوی اروپا را که به معنای توقف "فعالیت های صلح آمیز هسته ای ایران" باشد، رد خواهد کرد.

سه کشور اروپایی بریتانیا، فرانسه و آلمان طرحی را تهیه کرده اند که در آن از ایران خواسته شده در ازای یک رشته مشوق ها، برنامه غنی سازی یورانیوم را کنار بگذارد.

به گزارش خبرگزاری جمهوری اسلامی، ایرنا، آقای احمدی نژاد گفته است: "تعجب می کنیم ازاینکه عده ای می خواهند بنشینند و در غیاب ما برای ما تصمیم بگیرند، آقایان هنوز در فضای دوران استعمار بسر می برند و تصمیمات آنها برای ما اعتباری ندارد."

وی صبح یکشنبه، ۱۴ ماه می، در بازگشت از سفر مالیزیا گفت: بهترین مشوق اروپایی ها اجرای مقررات ان پی تی است.

حمیدرضا آصفی، سخنگوی وزارت امور خارجه ایران نیز گفته است: در پیشنهاد اروپایی ها، حقوق ایران باید به رسمیت شناخته شود و راه های رسیدن به این حقوق نیز باید تضمین شود.

آقای آصفی در جلسه هفتگی خود با خبرنگاران تاکید کرد که تنها راه برون رفت از بحران هسته ای کنونی، مذاکره است.

طرح تازه اتحادیه اروپا برای ارائه مشوق هایی به ایران جهت توقف برنامه هسته ای این کشور، با واکنش های احتیاط آمیزی نیز همراه بوده است.

آژانس بین المللی انرژی اتمی این ابتکار عمل را اقدامی مثبت خوانده است.

محمد البرادعی، مدیرکل آژانس بین المللی انرژی اتمی، با اشاره به طرح اروپایی ها گفته است هر مجموعه مشوقی برای ایران باید طیف وسیعی از مسائل را در بر گیرد.

وی گفت: "امیدوارم که این مشوق ها جامع باشد، جسورانه باشد. امیدوارم که به تهران امکان دهد به میز مذاکره بازگردد. همچنین امیدوارم که ایران متوجه باشد که خیلی باید روی ایجاد اشاره مدیر کل آژانس بین المللی انرژی اتمی در مورد اعتمادسازی قبل از هرچیز به معنی تعلیق برنامه غنی سازی اورانیوم است، در حالی که منوچهر متکی، وزیر امور خارجه ایران، گفته است کشورش آماده چنین کاری نیست.

خبرنگار بی بی سی می گوید که اگر ایرانی ها کوتاه نیایند در آن صورت بسته مشوق های اروپا هم به جایی نخواهد رسید.

بیانیه اروپا حاکیست: "در صورت رفع کامل نگرانی های بین المللی (نسبت به برنامه اتمی ایران)، اتحادیه اروپا آماده خواهد بود از توسعه یک برنامه اتمی غیرنظامی ایمن، پایدار و غیرقابل تکثیر در ایران حمایت کند."

وزیران امور خارجه کشورهای اروپایی قرار است فردا، دوشنبه ۱۵ می، برای نهایی کردن جزئیات طرح خود با هم دیدار کنند.

به گفته کریس موریس، خبرنگار بی بی سی در امور جهانی، گزینه دیگر امریکا و اتحادیه اروپا این است که روسیه و چین را برای تصویب یک قطعنامه شدیداللحن در شورای امنیت سازمان ملل که ایران را ملزم به تعلیق غنی سازی می کند با خود همراه کنند.

با این حال مسکو و پکن تاکنون نسبت به توافق با چنین قطعنامه ای بی رغبت بوده اند زیرا نگرانند راه را برای اقدام نظامی در آینده باز کند.

'ایران در سایه تهدید نظامی مذاکره نمی کند'

آقای احمدی نژاد پیشتر نیز گفته بود هیچگونه مذاکره ای تحت تهدید نظامی صورت نخواهد گرفت.

رییس جمهوری ایران گفته بود که تهران آماده مذاکره با هر کشوری به غیر از اسرائیل در مورد برنامه اتمی خود است، اما نه در سایه تهدیدهای نظامی.

آقای احمدی نژاد با اشاره به اینکه ایران اهل گفتگو و رابطه با همه کشورها به جز اسرائیل است گفته بود: "البته برای گفتگو با هر کشوری حتما شرایطی لازم است اما اگر بعضی از کشورها فکر می کنند هواپیمایی پر از بمب بالای سر ما نگاه دارند بعد خواهان مذاکره شوند، ما اهل مذاکره با آنها نیستم."

وی افزوده بود که "ما با کسی دعوا نداریم اما زیر بار زور هم نمی رویم."

رییس جمهوری ایران بار دیگر تاکید کرده بود که: "همه آنها صد در صد می دانند که برنامه اتمی ایران کاملا صلح آمیز است."

منوچهر متکی، وزیر خارجه ایران، نیز پیشتر گفت پیشنهادی که حق ایران در فن آوری هسته ای و راه های تضمین این حق در آن لحاظ نشده باشد، قابل قبول نیست.

بیایید با تخلفات از مردم فاصله ...

درواقع این آقایان کارگزاران امور کشوری بدست خود تیشه بر ریشه های خویش که همانا ملت است میزنند واین بدنهء عظیم مردم را چنان پراگنده میسازند که بازهم همان سالهای ۱۳۷۵ خورشیدی تکرار شود وعالی وموالی باردیگر به سمج ها وپناهگاه های خود درداخل و خارج پناه ببرند، زیرا زمینه های مادی ومافیایی، فساد اداری وارتشاء ومواد مخدر وبی امنی ها وبیعدالتی های اقتصادی واجتماعی بقدرکافی درتمام تاروپود دولت به شدت رخنه کرده است ، درآنصورت وقتی این تشتها همه یکباره ازبام بیفتند ، دیگر نیروهای بازدارنده موجود نخواهند توانست ملت را دربرابر دولت ودفاع از آن یکپارچه نگهدارد.

بیایید آقایان! ازین رویای خوش چوکیداری وقدرت طلبی های توأم با تخلف، فاصله بگیرید تامردم ازشما فاصله نگیرند تا این رویاهای خویش را از دست ندهید!

تر دوه کلن څنډ...

ها خوا ولسمشر کرزي په خپل پیغام کې نوی ملي سرود د افغانستان د خلکو د ملي ، فرهنګي او تاریخي هویت ښکاره بللی او هیله یې څرګنده کړه چې په دې سره به د افغانستان خلک تر یوه بیرغ لاندې راټول شي

نوی ملي سرود په پښتو ژبه دی او د هیواد د اساسي قانون د حکم له مخې پکې په افغانستان کې د میشتو قومونو نومونه او د الله اکبر کلمه ځای کړل شوې ده

د سرود شعر په امریکا کې میشت افغان شاعر باري جهاني لیکلی او په المان کې میشت افغان کمپوزیتور ببرک ویسا د بتهوون په نامه د دغه هیواد د مشهور سیمفوني ارکستر په ملتیا کمپوز کړی دی

دغه راز یې د ترانې په بڼه په لوستو کې د راډیو افغانستان مشهورو پخوانیو سندرغاړو لکه ناشناس ، ارمان ، افساني او نورو وندې اخیستې ده

د انجونو یو ښوونځی...

د افغانستان سره د مرستو موسسه چې په هیواد کې د انجونو له یو شمیر ښوونځیو سره مرسته کوي د دواب د کلي پدغه ښوونځي کې هم د زده کړو لپاره هر رنګه مرستې تر سره کړي دي چې د انجونو پر یوه ښوونځي یې همدا اوس د راکټ برید شوی دی.

پدغه ښوونځي باندې د راکټ له ډزو وروسته اوس د نوموړې ښوونځي باندې د راکټ له ډزو وروسته اوس د نوموړي ښوونځي دروازې د انجونو پرمخ ټرل شوي او د سیمې اوسیدونکي اندیښمن دي او وایي هر څومره زر چې کیږي په نوموړې ښوونځي کې د انجونو زده کړې بیرته پیل شي.

دا لومړی ځل نه دی چې په وردګو کې دغه ښوونځی د دولت د مخالفینو تر وسله وال برید لاندې راځي په تیرو دوو میاشتو کې د وردګو په بیلا بیلو ولسوالیو کې دری نور ښوونځي تر وسله والو ډزو یا هم داور په لمبو سوزول شوي دي.

بحث دیروزی کمیسیون های...

حاجی الماس یک تن از نمایندگان مردم ولایت پروان در ولسی جرگه میگوید که نا امنی در کشور وجود دارد و باید با هراس افگنان قاطعانه مبارزه شود. سید محمد گلاب زوی نماینده مردم ولایت خوست نیز در باره ناآرامی های اخیر در کشور صحبت نموده و گفت باید در راه مبارزه با هراس افگنی طرح مشخص داشته باشیم.

نشست های جداگانهء دیروزی اعضای کمیسیون های ولسی جرگه در حالی صورت میگیرد که قرار است امروز چند تن از اعضای ستره محکمه به ولسی جرگه حاضر گردند تا به سوالات نمایندگان مردم پاسخ بدهند.

ایجاد گروه های...

برخی از کار شناسان فعالیت مجدد گروه های مسلح غیر مسول را تهدید، برای امنیت کشور ارزیابی میکنند و آنرا مانع در برابر برنامه خلع سلاح و غیر نظامی کردن افراد مسلح میدانند.

تا کنون بیش از هزار تن از شبه نظامیان قومی در ولایت کنر در مناطق مرزی که اربکی ها یاد میشوند جابجا شده اند و برای هر فرد ماهانه ۴۰۰۰ افغانی حقوق پرداخته میشود، گفته شده است در هر ولسوالی مربوط به ولایت کنر ۵۰ تن ازین شبه نظامیان مؤظف به تأمین امنیت شدند.

این در حالیست که دولت از سال گذشته برنامه خلع سلاح کردن افراد و گروه های مسلح غیر مسول را در نقاط مختلف کشور آغاز کرده است.

ارداده
زیرنظرهیات تحریرانتشار میباید
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: سهراب دیدار
اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر ۹۵)
تیلفون موبایل: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶
روزنامه آزاد وملی نشریه مرکزنشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: صدیق الله "صادق" و احمد مسعود "ستانکزی"
چاپ: مطبعه مرکزنشراتی افغان
قیمت یک شماره ۳ افغانی

ERADA Daily
Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Suhrab Didar Mobil Phone: 070222726
Composed & designed by : sidiq ullah (sadiq) & Ahmad shah (wahdat)
eradadaily@hotmail.com